UNITED NATIONS NATIONS UNIES

# عمومي منشي

--

## د سولې د نړيوالې ورځې په وياړ پيغام

<u>د سپتمبر ۲۱، ۲۰۱۰ کال</u>

**<u>عمومی منشی د سولې د نړيوالې ورځې په پيغام کې د نړيوالو ګواښونو په وړاندې د ځوانانو د پلانونو او نظرياتو غوښتنه کوي</u>**

دا لاندې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي بان کی مون پيغام دی چې د سپتمبر په ۲۱ د سولې د نړيوالې ورځې په وياړ بايد مراعات شي.

نن ورځ موږ د سولې نړيواله ورځ وياړو. دا هغه ورځ ده چې د اوربند او دعدم تشدد لپاره وقف شوې ده.

سوله ډير ارزښت لري. هغې ته بايد وده ورکړو، و يې ساتو او دفاع ور څخه وکړو. څکه زه هر کال د ملګرو ملتونو په مرکزي دفتر کې د سولې په نړيواله ورځ د سولې زنګ وهم او څکه زه هره ورځ د سولې لپاره کار کوم. زه د مخالفو ډلو ترمنځ منځګړيتوب کوم. زه د تهديدونو د خطر غږ پورته کوم. هغه تهديدونه چې موږ يې په اساني ليدلی شو او هغه نور چې په څنډو کې ښکاري. زه زغم، عدالت او بشري حقونو ته وده ورکوم او د ملکونو او خلکو ترمنځ د همغږۍ لپاره زيار باسم.

په دې کال کې د سولې ورځ د ځوانانو لپاره وقف شوې ده. موږ لېږ وړاندې د ځوانانو د سولې کال ولمانځه. د دې کال موضوع يا د ډيالوګ دوه اړخيز تفاهم د سولې بنيادي مسالې دي. ځوانان نن ورځ په خپلو کورونو کې له يوې متنوع نړۍ څخه برخمن دی او په داسې نړۍ کې ژوند کوی چې په اسانی سره اړيکې ټينګولای شي. خو په عين وخت کې دوی د افراطيت ښکار هم کيدای شي. نو څکه زه په ټولو حکومتونو او همکارانو غږ کوم: راځئ چې د ځوانانو لپاره ډير څه وکړو، راځئ چې دوی ته د سولې او زغم يوه نړۍ ورکړو.

او زه په ټولو ځوانانو غږ کوم چې له موږ سره يو ځای شي. له موږ سره د سولې په کار کې مرسته وکړئ. تاسې بې صبره ياستئ. تاسې وينئ چې موږ، ستاسې مشران- کال تر کال وروسته د نېستۍ او فقر، بې عدالتۍ او معافيت او د طبيعي چاپيريال د تخريب په وړاندې ټينګار کوو.

په داسې حال کې چې د زريزې پرمختيايي هدفونو ته پنځه کاله پاتې دي، زه په ټولو ځوانانو او زړو غږ کوم چې دې نړيوالو ګواښونو ته نړيوال حل لارې پيدا کړي. خپل پلانونه او نظريات له موږ سره شريک کړئ او په مينه او د نوښت په روحيه لاس په کار شئ، د ټولو لپاره د سولې او سوکالۍ په موخه له موږ سره مرسته وکړئ.

* *** *